د پښتو نوی ژوند :

# زموږ نوی او مترقي ادب به څنګه وي ؟

زوړ ادب د نوی ادب ضرورت، د نوی ادب موضوع او نوی عناصر، جغرافی طبیعت، اجتماعي عنصر، ديني عنصر، د نوي ادب سبک او ظاهري ډول، د نوی نظم او شعر موضوع، د نوی نظم اوزان او عروض، د پښتو نوی ادیب به څوک وي؟

دا یو خورا درونډ او ګران بحث دی، چې اوس د وطن د پوهانو او د پښتنو دې خواته فکر سویدی. او موږ هم پردغه موضوع کله کله څه مضامین لیکلي دي، څکه چې دغه خبري اوږده لمن لري نو زما په خیال خو هغه څېړني کافي نه وې، څکه نو مي قلم راواخیست چې دغه ګران او مهم موضوع نور هم پسي وښیم او د پوهانو د افکارو په ویسا نور څه هم پر ولیکم.

زما ددې اوږدې مقالې او پله نښتو خبرو لنډ فهرست هغه دی، چې ددې مقالې په تندي کښي د ليکلو تر منځ راغلی دی. په مضمون کښي به د ادب دغه مهم پلوونه روښ کړه سي. زه زيار کاږم چي د ژونديو ژبو ژوندی ادب او دخپلي ژبي پنګه او زوږ اساس دواړه سره سم کړم. او مطلب مي دادی چي خپلو پښتنو وروڼو ته د پښتو ژبي د نوي ادب د پالني اوروزني لاري چاري څه نا څه وښيم، ګوندي دغه زماخبري او ليکونه په دغه لارکښي لومړی پل وګڼل سي، او نور د پښتنو پوهان او هغه ادباء چي نن ورځ پښتو خوارکۍ ددوي لمني ته لاس اچولی دی، هم دې خواته وګوري، او نه پرېږدي چي زموږ نوی ادب چي اوس د پسرلي د نوي غاټول په ډول زرغونيږي او زموږ لوړ غرونه د خندا اومسا را ډکوي، د خود رويه ګُل په شان شين سي، او د باغوان د پالني څخه ئې لاس وخيژي. نن زموږ ژبه نوې را ژوندۍ کيږي، زموږ د ادب نوي ستې ايښوولي کيږي، نوي تخمونه شندل کيږي، نن ورځ ليکوال او د قلم څښتنان د پښتو د ادب د بنې روزونکي او پالونکي دي، که دوي هم سترګي پټي ولاړ سي او په پوهي او سترګه ورتوب د ژبي روزنه ونه کړي، نو خداي دي نه کوي دا زموږ ژبه به د ژوند پر ځای مړه سي، يا به د نورو ژبو تر اغيزي داسي لاندي سي، چي بيا به ئې نوې تکم او زموږ زامن په چاره پوري حيران وي. په دغه مضمون کښي زما مقصد دغه دی چي چي دخپلو قلم والو وروڼو سره د نوي ادب په لارو او چاروباندي ورغيږم له ټولو پوهانو څخه هيله لرم چي دوي هم خپل افکار ونه سپموي، او هرڅوک په دغه لار کښي زموږ سره مرسته وکاندي. زه مخصوصاً د پښتنو ښاغلي اوسني ليکونکي او ادباء چي د نن ورځ د پښتو علم برداران دوي دي، او ټوله د پښتو مينان رابولم چي دوي زما دغه کرښي په غور ولولي، او هر څوک خپله رايه پر ښکاره

کی. که زه سهوه سوی یم راته ولیکي، ګوندي تـر دغـه مـنځ حقیقـت ښکاره سي، او زموږ د نوي ادب لاره ښه سمه سي که خداي کول.

## په مقصد پیل

د علمي ټولنو او اکاډمي ګانو مهم وظایف خو دغـه دي چـي دوي خپل وطني ادب وپالي او ددغه د ارتقاء او لوړتیا پـه لاره کښـي د نـورو سره کومک او هم تشویق وکړي، که څه هم هره ژبه څه نه څـه خپـل بو زوړ ادب لري، چي دهغې ژبي اساسي عنصر ګاڼه سـي، مګـر بیـا دا ښکاره ده چي نوی نسل نوی ادب هم غواړي، او اوس موږ ناچـاره یـو چي په پښتو کښي نوی ادب ولـرو، او هغـه شـیان چـي زمـوږ ادب پـه روزل کیږي وئې پالو، ادیب ادب جوړوي او ادب ملت ویښـوي، نـو د ملت د ویښتوب او لوړتیا دپاره د ادباؤ روزنه لازمه ده، که ادیب نـه وي نو به ادب هم محوه سي، په دغه خبره کښي هیڅ شک نسته، او زمـوږ پیاوړي ادباء لکه خوشحال خان اورحمان او پیرمحمد او نـور ... ددغـه ادب استادان اومبلغین دي، او دوي موږ تـه یـو خـورا قیمـت لـرونکې ذخیره را پرې ایښې ده، مګر دلته یوه بله خبره هم سته، چي کـه څـه هم دغه زوړ ادب ځني اساسـي د پښتنـوالي او ملیـت عناصـر لـري، او زموږ د ژبي زړه پنګه ګڼله سي، بیا هم له بلـي خواشـدیداً د پردیـو تـر اغیزې لاندي دی.

نو که څه هم موږ د خپلو زړو ادیبانو له لوړه مقامه انکار نه لـرو، او دوي د ژبـي لـوي روزونکـی او د ادب پیشـوایان اود پښتـو د نـاموس ساتونکي بولو، مګر سره ددغه هم په دې زمانه کښـي مـوږ مجبـور یـو چي یو داسي نوی ادب هم ولرو، چي هغه یـو عصـري ملـی ادب وي، متاسفانه له پخوانیو زړو پیړیو څخه دخپل جغرافي موقعیـت پـه سـبب

پښتنو خپل ملی آداب د پښتنوالي سره سم نه دي روزلي، ځکه چي لـه هري خوابه پر دوي باندي دپردو مدحش سېلابونه راتلـه، او دوي بـه د خپل ملي ژوند په دفاع او جګړه بخت وو، اوهـيڅ فرصـت ئـې ددغـه ډول شيانو وپالني ته نه و ميندلی، اوس چـي مـوږ پـه دې شـيانو لاس وهو ښايي چي دکار له ابتداء څخه وېښ يو، او زموږ ښاغلي ادبـاء زيـار وکاږي، چي د خپل ادب سته پر ټيـنګ عصـري او ملـي اسـاس ټينګـه کړي زه به لاندي د پښتو د نوي ادب تشـکيلات د پوهـانو د افکـارو پـه استناد وليکم او مثالونه به يې هم پر خپل موقع وښيم :

## ادب دوې خواوي او دوه اړخه لري

1. د ادب موضوع
2. د ادب ظاهری شکل او ډول يعني سبک.

1. **موضوع** :

د هر ملت د ادب موضوع ځانله ښېل اساسي عنصر لري چي له هغه چاپېر او ماحول او محيط څخه زېږي، او د هغه ملـت لـه روحـه سـره سموالی لري، هغه اساسي لوازم او عناصر دغه دي :

**الف** : **د جغرافي طبيعت لوازم** :

ښايي چي زموږ ادب د پښتونخوا د طبعي او جغرافي طبيعت مصور وي او د پښتنو د ملکو ښايست او ښکلـي تـوب ښکـاره کـی، او زمـوږ دلويو او جګو غرو ښکلي مناظر او زړه وړونکی اشکال و پردو ويونکـو ته ور څرګندکي، يعني د پښتنـو ادب بايـد دپښتنـو د مينـي د ښېګڼـو ډک وي : د اروپا په ادبياتو کښي هـم طبيعـي ادب مخصـوص ډول دغه کيف لري، او لومړنی او لـوي محـرک ئـې هـم د فـرانس نـامتو

فيلســوف منتســکيو ( ۱۶۸۹- ۱۷۵۵ ع) دی چــي پخپــل کتــاب روح القوانين کښي ئې د جغرافيايي طبيعت پر اهميت يو مخصوص بحـث ليکلی او د اروپا د ادب مخ ئې دغي خواته ور وګرځاوه. دلته بـه زه يو ښکاره مثال زموږ په اوسني ادب کښي در وښيم : يو شاعر چي د ښار اوسېدونکی او د ښار د جغرافي طبيعـت تـر اغېـزې لانـدي دی، هغـه وخت چي د واوري اورېدنه په ژمي ويني، نـو دښـاري تخيـل پـه دنيـا کښي د يوناني طبيعت د دکان هغه لوي اونګ چي هره ناسفته مرواريد پکښي زدويي ور په يادېږي او په دې ډول دغه حالت تصوير کوي :

برف است که از هوا سرا زير بود
يا هاون چرخ کرده حل مرواريد

بالعکس يو پښتون چي د غرو د تخيل په هسکه دنيا کښي تـل شـعر وايي ، د خپل چاپېر (محيط) او جغرافی طبيعت سره سـم پـه دې ډول هغه منظره راښئي :

پرلويو غرو واوري اورينه
که لمر وړانګي پر سپينو پر ښوځلوينه

په دې لنډۍ کښي پښتون شاعر يو خورا ښکلی او طبيعـي تخيلـي لري د پښتونخوا پر لوړو او جګو غرو باندي د واوري د اورېـدلو منظـر دی په حيرت کښي اچوي چي آيا دغه دلمر سپين او روښي وړانګـې د غرو پر برېښېدونکو او صافو پرښو باندي لوېږي او ځلېږي، کـه سـپيني واوري پر غرو پرتې دي؟ وګورئ دغـه تخيـل يـوازي د پښتانـه پـه جغرافی طبيعت اړه لري، او زموږ په ادب کښي طبيعـي او خـوږ هـم ګاڼه سي، او د پښتنو روح ورسره آشـنا دی. نـو شـعر او وينـا چــي هـر خومره پر جغرافی طبيعت سمه او موافقه وه هغومره د اصالت له پلوه

قدر اوقيمت مومي، او د هغه ملت پر روح ژوره اغېزه کوي، او ويونکي ته ئې " ښه شاعر" ويل کيږي.

**ب _ اجتماعي عنصر :**

د ادب اجتماعي عنصر هم ښايي چي کټ مټ ملي او خپل وي زموږ نوی ادب اساس بويه چي پر هغه ډول ټينگ سي چي اجتماعي عناصر ئې د پښتنو د ملي روح او د پښتنوالي سره سم وي، د ادب اجتماعي عنصر دوه اړخه لري :

**لمړی اړخ _ تېره زمانه او د ماضي عنصر :**

په دغه ډول کښي د پښتون ملي فولکلور (١) او کلچر ( تهذيب) او روحيات او عادات او دودونه او اخلاق او عنعنات او رسوم او آداب ټوله راځي او دغه عنصر، موږ د خپل روڼ تاريخ سره نښلوي، او موږ د هغه ننگياليو نيکونو او پلرونو په ژوندون خبروي چي دوي د يوه مخصوص نفکر او تمدن خلاق او مبتکر وو، د اروپا په نوي ادب کښي د فرانس مشهور ليکونکی فلوبير په خپلو کتابونه "سلامبو" او "دروقصو کي" او توفيق الحکيم مصري پخپل کتاب ( محمد صلعم) کښي د ادب دغه عنصر ښه روزلی او د تېرو پلرو ژوندون ئې په نوي ادب کښي ښکاره کړيدي.

زموږ په ملي ادب کښي هم له پخوا څخه ځيني خوږې او قيمت داره قصې او روايات پاته دي، چي موږ د خپلو نيکونو او د زړو پښتنو په افتخاراتو خبروي، ددغو ملي آثارو ژوندون او له ضياعه ساتنه پر موږ لازمه ده، او ښايي چي زموږ په ملي نوی ادب کښي دغه ملي آثار ښه ... نسي او زموږ د ادب دغه زوړ او پوخ عنصر وپاله سي، ولي چي

ډير زموږ زړې ملي پنګي پـه دغـو کښـي پـرتې دي. او د پښتنـوالي او مليت روح پکښي پټ دی، زموږ ادباء بايد زيارو کاږي چـي دغـه مـړه کېدونکي آثـار بيرتـه ژونـدي سـي، او زمـوږ پـه نـوي ادب کښـي ئـې پالنه وسي.

دغسي هم نور زموږ ملي عنعنات اودودونه او دپښتنـوالي زاړه مزايـا او ښېګني ټوله په نوي ادب کښي روزنه غواړي، او د نوي ادب سته پـر دغو ښېګڼو باندي ټينګيږي.

که ادباء دې خواته توجه ونه کړي، نو بـه زمـوږ د ژبـي نـوی ادب ناقص او له زړو افتخـاراتو څخـه تـش وي، او پښتانـه بـه هـيڅ مينـه او دلچسپي نه ورسره لري.

## دوهم اړخ ـ نوی عنصر او نوې زمانه :

په دې عنصر عصري احتياجات او د نوي ژوندون تطورات او مدني حيات او ادبي اوفکري استقلال او نوري نوي خبري او نـوي علـوم او فنون اړه لري، د ادب دغـه اړخ ملـت مسـتعد کـوي، چـي د مـدنيت صحيح اوغير مضر اساسونه ومني او پر دغـه ډول نـوی تکـم هـم تربيـه کي، دغه عنصر موږ د نوي ژوندون او نوي عصر په دودونو خبروي، او موږ ته دا رابنئي چي په نوي ژوندون کښي به زموږ اوضاع څنګـه وي؟ او پر کومه لاره به روانه وي؟ اوڅه به کوو چي د سيالانو سره سم سـو، او خپل نواميس خوندي کړو؟

د فرانس په نوي ادب کښي د بلزاک کتاب چي نوم ئې "د انسانيت داستان" يعني د سړيتوب قصه ده او پـه اوسـني عربـي کښـي د نـيکلای حداد کتابونه "نوی آدم اونوې حـوا" د ادب ددغـه عنصـر ښـې نخښـي دي، اما يوه بله مهمه خبره هم سته : دغه نوی عنصر ښـايي چـې حتـي

المقدور او په خورا زيار پر ژاړه عنصر تطبيق سي، چي ملت ئې ومني او د دوي له زړو عنعناتو څخه مخالف نه وي، او د ادب زوړ او نوی عنصر په داسي ډول حکيمانه تطبيق او يو ځای سي چي هر څوک ئې په خوند ولولي، اودملت په زړه کښي دننه ځاي ونيسي. که فرضاً موږ دغه دوه عنصره په خپل ادب کښي اوړه په اوږه سره ونه دروو، نو به زموږ د ادب يو اړخ ګوډ وي، او هيڅکله به پوره ملي ونه بلل سي!

متاسفانه زموږ ژبه په دغه عنصر کښي خورا بې وزلې ده، او ګناه ئې هم زموږ او د هغو خلکو په غاړه ده چي نن قلم د دوي په لاس کښي دی.موږ تراوسه پخپله ژبه کښي پر نوی سبک هيڅ نه دي ليکلي زموږ ځلمي که څه ليکلي هغه خو په بله ژبه ليکي، او خپل ژبه ئې کورټې هېره ده، نن پرون ډيري ادبي ډرامې او قصې ليکلي يا ترجمه کيږي مګر افسوس چي پښتو له دغو ادبي تحريکاتو څخه محرومه ده، او ځلمي مو پردو ښېګڼو کښي کمالونه ښکاره کوي.

ادبي او علمي ټولني چي د پښتو د خدمت دپاره مقرري دي، ښايي چي هر راز تشويق او ترغيب وکي، چي زموږ ژبه د عصري ادبي آثارو خاونده سي، هر څونه چي موږ په نورو ژبو کښي خپل کمال ښکاره کو، او ماغزه وخورو، هغه خو د هغو ژبو پر سرمايه زياتيږي، پښتو خوار کی ته خدمت نه دی.

## ج ـ اقتصادي او د ژوند عناصر :

که څه هم ادب د يوه روحاني خوند وسيله ده، او ډېره برخه ئې د نفيس هنر خواته ځي مګر بيا هم په حقيقت کښي د ژوندانه سره ټينګه رابطه لري، او که ادب له ژونده بيل سي، نو به يوازي د روحاني خوند وسيله وي او په اوسني مادي ژوند کښي به دخل ونه لري. اوسني

مدنيت او د انسانانو فکري يون " ژوند اوماده" داسي رابرسېره کړيدي چي ټول هنرونه او نفيس صنايع او ادب فقط د همدې لپاره غواړي چي په ژوند کښي ددوي په کار ورسي او په اقتصادي لارو چارو کښي هم دوي ته ګټه ور وي.

پخوا ادب پخپله يو ځغلنده آس ؤ، چي خپل سپور به ئې هغي خواته چي غوښت بيوئ، او انسان به د ادب تر ملونو لاندي حرکت کاوه. مګر اوس ادب د يوه ملوني سوي آس په توګه پر هغي خوا ځي، چي انسان ئې د خپل ژوندانه او مادي ښيګړو لپاره غواړي.

اوسنی انسان وايي : چي د دب روحاني خوند په دې کښي دی، چي د نسان سره دکار او ژوند پر ډګر کومکي او مؤيد دی، اود ادي ژوندانه لپاره ګټور سي.

د ادب دغه نوې توجيه خو داسي ده، چي مونږ هم سترګي نه سو څني پټولای، ولي چي مونږ هم ژوند غواړو، او د خپلو اقتصادي او مادي اړتياوو په جال کښي نغښتي يو.

د پښتو نوی ادب به خامخا دغه ځوان نوی عنصر خوندي کوي، که نه وي د يوه مړه ادب په پرستن کښي د مړو سره ځان نغښتل د عاقل سړي کار نه دی.

## ۲. د ليکلو اصول او سبک :

ادب اساساً دوې مهمي برخي لري :

نثر او نظم :

**نثر** : څکه چي زمونږ عصري احتياجات او د مدنيت او نوي ژوندون چاري او لاري ټوله په نثر اړه لري، او په علمي او فني منثورو . کتابونو سره مونږ علوم اوفنون خپرولای سو او صنعت او حرفت

ښوولاي سو، او رواجولاي سو، نو زما په فکر تـر نظـم ونثـر تـه ډېـره توجه لازمه ده. ښايي چي د پښتو په نثر کښي يو داسـي سـبک او ډول جوړ کو، چي د افادې او استفادې سـهولت ئـې مهـم مقصـد او عنصـر وي. يعني د نثاری او قافيه طرازی له ګرانو او مغلقو ډولونو څخه پاک وي، او د پاړسو له وروستني مغلق هندي سبک څخه ليري وي، د نثـر ليکلو په ډول او سبک کښي دې خبرو ته کتنه ضروري ده :

**الف** : له ښه مرغه تراوسه د پښتو تقرير او تحرير يعني ويل او ليکل د پاړسو اوعربي ژبو په راز سره ليري او بېل نه دی، هر څه چي په خولـه ويل کيږي کټ مټ هغه په قلم ليکل کيږي.

د پښتو دغه خپل طبيعي او خداي ورکـړی ښـه سـبک ښـايي چـي وساتل سي، اوزمونږ ادباء ئې تقويت وکی، نه ښايي چي د هند تخيـل يا د ميرزامهدی او بيدل د نثر ډول مونږ پخپله پاکه ژبه راګډ کو.

زمونږ قلم وال پښتانه ښايي چي د ترجمې پر وخت هم دې خبري ته فکر وکي چي خپله ژبه د نورو ژبو د ډول تر اغيزي نه کی لانـدي، بلکي هر کله هغـه مطالـب پـه داسـي ډول اداءکـړي چـي د پښتـو لـه محاورې او خصوصياتوسره سم وي.

د پښتو دغه طبيعي خپل سبک چي ويل او ليکل ئـې سـره بېـل نـه دي، د افادې اواستفادې په ټولو شعبو کښي خورا غنيمت او ښـه دی، زمونږ ليکونکي دي سر له اوسه دې خواتـه ملتفـت وي، چـي د ژبـي د انشاء دغه بې الايشه او سپېڅلي ډول د نورو ژبو د تکلـف او تصـنع پـه تقليد خيرن او کرغېړن نه کی.

**ب** : د لغاتو او محاوراتو په غوره کولو کښي ښـايي چـي د پښتـو د ټولو قومو د ذوق مراعات وسي يعني ښايي مونږ په پښتو کښي يـو ګـډ او متحد سبک ومومو، چي دغه سبک ټوله پښتانه ذوقاً ومني، که څوک د

يوې خوا لغات او محاورې واخلــي او د نـورو دا پرېـږدي، البتـه دغـه سبک ټوله پښتانه نه سي منلای. مګر په لغاتواو محاوراتو کښي خـو هغـه افضل او د غوره کولو وړ دي، چي د پښتو ژبي د خصوصياتو سره نښت او نژدېوالی ولري، او د ادب په قالب کښي ژر تر ژره راتـلای سـي، لـه سوات اوباجوړه او يا له ننګرهاره اوپېښوره له جنوبي خوا يا تـر شـلګر او مقره د سليمان د غره لمنو يا د کوړک او کندهار تر رغو او ډنډو له کاکړو او ښوراوکه يا تر سيستان او فراه او تايمنو پوري د پښتو ژبي هغه ذخاير سته چي پلټنه ئې د ادباؤ او ادبي ټولنـو کـار دی، خـو چـي د پښتونخوا ټوله لغات او محاورې او د تکلم اصـول، د قومونـو د ژبـي د مخصوصي مزاياو سره را غونډ نه سي، اوله هره چا څخه د هغو ښېګني اقتباس نه سي، البته د پښتو غوره مسلم سبک هم جـوړول ګـران دي، څوک چي په يوه کوټه کښي ناست وي، د يوه قوم د ژبي مقـدرات نـه سي فيصله کولای او نه صلاحيت لري. دالته يوه خبره خورا لازمـه ده، مطلب دا نه دی چي پښتانه پخپل منځ کښي لکه څنو چي فهمـولې ده، اختلافات لري، يا يو د بل مزايا نه سره مني، يه يه يه! زه په دې قايل يـم چي د پښتو سوچه او کره لغاتو اومحاورو ښه ذخيره د ننګرهار پـه غـرو يا د جنوبي خوا په رغو کښي پرته ده، زه په دې قايل يم چي،د پښتـو د ادب ډېر روزونکي زموږ هغه ننګيالي او اصيل پښتانـه دي دوي د خيبـر دغرو شاوخوا يا د پېښـور اوننګرهـار پـه پـاکو اوآسـماني غرونـو کښـي اوسي، که څوک د رحمان بابا يا د خوشحال خان او نورو ښاغلو پښتنو اديبانو زيار او د مليت ګرانبها احساسـات هېروي هغـه دي پـه غبرګـو سترګو ړوند سي. دوي زموږ د مليت د بُنياد کاڼي ايښي دي، دوي هغه غيور او ننګيالي پښتانه دي چي د دنيا غښتلي بريالي فاتحين لکه سـکندر او نادر هم ددوی دمخ زور ته سر کښېښو !

دوي خپله ژبه د لوړو غرو په ککريو کښې د پردو له اغيزې ساتلې ده، اوس که موږ د ژبې ادبي ذخيره يا خصوصي مزايا او ښېګني لرو، هغه خو ډېر زموږ ددې ننګياليو ورونو په تېرو کښې دي. لنډې دا چې اختلاف هيڅ خبره نسته او نه وه اونه به وي ! د کندهار دا مشهوره خبره دلته صادقه چې :

" موږ دلې و، او دلې يو، او دلې اوسو" اما په پلټنه او تتبع او ګروېږنه کښې مقصد دادی چې د ژبې مزايا او ورکي ښېګنې غونډې سي، ګوندي موږ تر ښه ډېر ښه ومومو، او له افضله افضلتر ته ولاړ سو، او له کامله اکمل لاس ته راړو، څو د ژبې حقيقي مزايا له هري خوا او هره ګوټه راغونډ کړو، او په دغه ډول هم زما په عقيده د پښتو يو "متحد سبک" مېندل کيږي وبس.

ج : زموږ په ژبه اوس ځيني پردي لغات او کلمات ګډ سويدي، چې دغه هم د ځيني طبيعي عواملو اثر دی، او ددنيا هيڅ ژبه له دغه اختلافه نه ده فارغه. ځيني خلک دغه د پښتو لوی نقص ګڼي مګر افسوس چې دوي نورو ژبو ته نه ګوري، په دنيا کښې به داسي ژبه نه وي چې د نورو ژبو کلمې ئې نه وي اخيستي، دا خو دانسانانو د اجتماعي ژوندون او بين المللی ګډون يو طبيعي اثر دی، اود طبيعت د سير په مخ کښې څوک نه سي درېدلای، د دنيا په مهذبو اولوړو ژبو کښې نن فرانسوی خورا شهرت لري الفرډ فوييه : (۱۸۳۸-۱۹۱۲ ع) نامتو عالم ليکي : چې په دې ژبه کښې (۳۸۰۰) لاتيني او (۴۲۰) جرمني او (۴۵۰) ايتالوی او (۱۰۰) انګريزي او (۱۰۰) اسپانوی (۱۱۰) سامي او (۶۵۰) مجهول اونور ډېر پردي کلمات داخل دي، يعني له (۲۷) زرو کلمو څخه تقريباً (۶) زره کلمې ددې ژبې پردي دي (۲).

په مشرقي ژبو کښې خو عربي خورا ارته ده، او مهذبه ژبه ده، که د خوارزمي مفاتيح العلوم او د احمد جواليقي ( متوفي ۵۳۹ هـ) المعـرب او د شهاب الدين خفاجي شـفاء العليـل او د حريـري دره الغـواص او د علامه سيوطی المزهر وکتل سي، نو به تاسي ته ښکاره سي، چي په دغه ژبه کښې څونه کلمات د پرديو ژبو يعني له پارسـي، لاتينـي، عبرانـي، سرياني، جبشي، سنسکريت، چيني، قطبي او نورو څخه راغلي دي، او دغي ژبي په ځان کښې دخيل او يا معرب کړيدي. ډېر کلمات د پارسي اوعربی تر منځ مشترک او ځيني بيا خاص له پاړسـو ژبـي څخـه عربـی ژبي اخيستي دي .(۳) چي د عربی پوهانو هغه ټوله ببـل ببـل ضـبط او ليکلي هم دي.

دا کلمات کله عربو پخپله ژبه کښې معرب کـړي او کلـه ئـې کـټ مټ ببله کومو اړولو اخيستي دي لکه خرم او کر کم. (۴)

د غربي او مشرقي د مشهورو او مهذبو ژبو مثالونـه مـي ددې جهتـه راوړه چي هغه خلک چي پښتو د پرديو لغاتو ګډون کړي وپوهيـږي او دا نقص چي علماً کورټ نقص نه بلل کيږي، په پښتو پـوري يـوازي نـه ونښلوي.

زه دا عقيده لرم او اثبات ته ئې هم حاضر يم، هغـه کلمـې او لغـات چي زموږ په ښارو اومدني کلو کښې د پرديـو ژبـو څخـه د اجتمـاعي ګډون او عواملو په سبب پښتو ته راغلي دي، په مقابل کښې ئـې دپښتـو سوچه او کره او يوازي پښتو کلمې هم په غرو او رغونو کښې سـته، نـو ځکه په دغه بحث کښې زه خبره پر څو برخو وېشم :

(۱) د پرديو کلماتو په مقابل کښې اوس موږ ډېر غير مستعمل پښتـو لغت لرو چي له ښارو څخه ئې هجرت کـړی دی، دا کلمـات مـوږ تـه

ښکاره هم دي، ښايي چي زموږ ادباء ئې بېله اضطرابه واخلي، او استعمال ئې کی مثلاً : د سیب پر ځای مڼه، دلباس پر ځای کالي، د سایې پر ځای سیوری او نور ... په دې ډول به زموږ ډېر مهجور او متروک معلوم لغات بیرته مستعمل او ژوندي سي. ځیني داسي پردي کلمات او لغات هم سته چي اوس دستي ئې موږ په مقابل کښي پښتو لغت نه وینو، او ښاروالو ته ئې پښتو کره لغت معلوم نه دي، دا لغات باید ژر تر ژره فهرست او ضبط سي وروسته نو د پښتو نخوا په هر گوټ کښي، پلټنه وسي زما ټينگه عقيده ده چي لومړی خو به ئې پښتو کره نوم مینده سي که نوی مفغن کلمات ئې ضرور لاس ته راځي. د سوات او باجوړ له غرو څخه بیا د سپین غره تر لمنو اود سلیمان د غره په لمنو او د کاکړو او ریگوا په خواو کښي ډېر کره لغات سته،باید ددغه لغاتو د پلټني دپاره د ذوق د خاوندانو یوه سیاره او گرزانده ډله واستوله سي یا له دغو ټولو ځایو څخه څو څو تنه راوغوښته سي چي لغات او کلمات ځني ضبط سي.

په دې ډول د پردیو کلماتو په مقابل کښي به موږ ضرور پښتو کلمات ومومو، اودغه به ورو ورو رواج کو. که مو فرضاً کومه کلمه نه کړه پیدا، نوبه ئې تر میندلو پوري عجالتاً هغه عربی او پاړسو کلمې وایو څو چي کره پښتو میندله کیږي.

(۲) هغه کلمې او نومونه چي نوي زمانې زیږولي دي، او تر اوسه ئې په عربی او پاړسو کښي هم خپل نومونه نسته او د نوي مدنیت له خوا هره ورځ زموږ کره راځي دا نو د پښتو د خواخوږو پوهانو کار دی، چي د ژبي د خاوندانو او اهلو او محتاطو خلکو یوه ټولنه به ورته جوړیږي، چي په دې باب کښي لومړی تر یوه صحیح پروگرام لاندي

فکر وکی، او په نورو ژبو کښي د لغاتو د وضع اصول او علمي قوانين وګوري د پښتو لغاتو د ريښو او جوړېدو تحقيقات وکړي، د پښتو خصوصي او اصلي مزايا تر نظر لاندي راوړي، ددې ژبي زاړه د فقه اللغه او فقه الصوت اصول د نورو ژبو له نوو او زړو د وضع او لغات سازۍ سره مقابله کړي، وروسته نو په اتحاد او يوه فکر وضع ورته وکي او ورو ورو دغه وضع کړي کلمات خپاره او مستعمل کي، د پښتنو پوهانو فکري اتحاد په دغه ځای کښي خورا ضرور دی، او يو سړی حق نه لري، چي د ټوله قوم د ژبي دپاره نوی شيان وضع کي او اوس که مثلاً يو سړی يا يو فکر په دغه کښي اقدام وکي هيڅوک ئې نه سي منلای او نتيجه ئې يو ادبي فوضويت او وراني ده، (په دې باب کښي ما د ورمې په يو تېره ګڼه کښي اوږد څه ليکلي دي.)

## نظم :

د پښتو نظم هم په نوی ادب کښي دوه پلوه لري : لومړی پلو ئې د شعر او منظوماتو موضوع ده چي اديب به ټوله هغه عناصر او لوازم چي د مخه مو د موضوع په بحث کښي وليکل ګوري او مراعات به ئې کوي. يعني د پښتو نوی شعر به د پښتنو له سپېڅلو او تودو احساساتو ډک وي. او د دوی ژوندون او پاک عواطف به ترسيم کوي او ټوله هغه طبيعي او اجتماعي او اقتصادي عناصر به په نوو اشعارو کښي پراته وي.

نوی شعر به د پښتو او پښتنوالي د لوړي او آسماني دنيا ځخه رغيږي، او هغه محيط به دنيا ته ور څرګندوي چي هلته افغانان په مادي او معنوي خپلواکي د مليت په غرور او د روح په مناعت او لوړتوب او د افغانيت د تودو احساساتو او شريفو عواطفو سره ژوندون

کوي، یعني د تخیل خوا ښایي چي بشپړه پښتني او انساني وي او د پښتنو اشعار ددوي ښه خواص او ښېګني او قومي سجایا ښکاره کي.

مثلاً : یو شاعر د عشق او میني په شاعرانه ماحول کښي ځان تردې اندازې پوري کښته کوي چي وایي :

شنیده ام که سگان را قلاده مي بندي
چرا بگردن حافظ نم نهی رسني

بالعکس : پښتون هیڅکله په هیڅ ډول ځان نه بایلي د مزاج استقلال اوخودي اوملی غرور د میني په سوځونکی دنیا کښي هم له لاسه نه باسي، یعني د ځان کښته والی او سپیتانه کوروټ نه مني، د پښتو د ادب پلار خوشحال خان ختک وایي :

مرګ لره ئې واړه د دهلی لښکر راغلی :
ته لا د خوشحال په مرګ ځان روغ نه ګڼي ننګ کړی

وګورئ ! پښتون شاعر په عین هغه حال کښي چي د دلدار دلاسه مرګ غواړي بیا هم خپل غرور او د روح مناعت نه ورکوي، او ذلت پر ځان نه مني، محبوبا ته یو وار خپل پښتني اهمیت او دروندوالی ښئي نو په خورا شاعرانه انداز د قتل تمنا لري.

دغه ما فقط یو لنډ مثال ووایه چي د پښتون د ملي روح ممیزه ده او د نوي ادب په مظاهرو کښي ئې احیاء د نوو ادیبانو پر غاړه ده د پښتو زوړ ادب که څه هم د پردو تر اغېزې ډېر لاندي دي، مګر ډېر ځله دغسي د ملي روح تجلیات او روڼاوي هم پکښي برېښي، بویه چي نوی ادباء د پردو هغه سپک او کرغېړن آثار له خپله ادبه وباسي، او یوازي مزایا ئې واخلي، وګورئ ! چي له دغه تخیله ځونه بې سیکي او بې خودي او رخاوت ښکاره دی.

خوشم با ناتواني گر چه هر ساعت زپا افتم
که وقت رفتن از کویش چوبرخیزم بجا افتم
(مظفر)

که د حوادثو سیلۍ راوالوزي، نوبه مقابل کښي ئې یو شاعر شکوې کوي اوناري وهي :

زتند باد حوادث که ازجفــــــا رفته است
چه شکوه ها که زلب های مدعا رفته است

مگر پښتون شاعر داسی نه دی که دنیا پرله ګډه سي، دی خو ځان نه بايلي نه داسي بې سپکه او مړ دی، چي هر چیري ولوېده هغه ئې ځای سي، او نه داسي سپکه خځله ( خاشه) ده چي هر باد ئې بوروي، د پښتون شاعر د ملي روح صلابت او کلکوالی د خوشحال خان له دغه تخيله څنګه بريښي :

د عالم ډيري خبري لور پر لور توري لښـــــکري
زړه مي نه خوځي له ځایه، غر خو هسي وي کنه

د لوړيو بيتو رخاوت او سپکتیا او ددې مضمون دروندوالی او ثبات وګورئ، د شاعر چي خپل ملی روح قوی او غښتلی وي، او خپله قومي پنګه ئې کلکه او تکړه وي نو کله ددنيا د حوادثو او ویرونو او آلامو څخه دا ناري وهی یه یه ! دی کورټ ځان نه بایلي دده زړه لکه غر له متانته له ځایه نه خوځي.

دا دی زموږ دملی روح تجلیات زموږ په زاړه ادب کښي چي اوس ئې باید زموږ نوی ادب تهوله بیرته ژوندی کي، او هغه کرغېړن او ناوړه آثار چي دپردوله تقليده زموږ په ادب کښي ليدل کيږي ښايي تهوله لکه پردي عناصر بیرته وایستل سي او زموږ سپېڅلي پښتني روڼ ادب له هغو تیارو څخه وژغورل سي. دا خو زموږ د نوی ادب د موضوع پلو ؤ،

چي لږ څه مو وڅېړلی، اوس به نو دوهم پلو وپلټو چي هغه نو (اوزان، قوافي، عروض، بحور) دی. زموږ زوړ نظم او شعر لږ څه د پارسو او عربي د عروضو او اوزانو په قالب کښي لوېدلي دي، تر دې دمخه ئې خپل خصوصي اوزان او عروض درلوده، چي هغه تراوسه خوشبختانه زموږ په غرو او رغو کښي سته، او اکثر د پښتو اشعار خپل خصوصي اوزان لري.

مګر له هغه وخته چي د عربی ژبي عروض او اوزان زموږ ژبي ته راغلي دي ځکه چي د ملت له روحه سره ئې تماس کړی او ملی رنګ ئې هم مبندلی دي له دې جهته نو اوس د تابعيت حقوق بشپړ لري او ملی دول ته نژدې هم ګڼل کيږي، او موږ نسو کولای چي دغه د سوو کالو د ادباوو زيار بې څه او بې ګټي وبولو او ددوي قدر ونه کو.

يه يه ! زموږ زړو اديبانو زيار کښلی او ډېره ادبی پنګه ئې موږ ته پرې ايښي ده، او دوی په خپل ملي ادب کښي يو خورا قيمتي باب هم زيات کړيدی پر ملي اوزانو ئې زيات د عربي بحرونو او عروضو ته نژدې ذخيره زموږ په ژبه کښي را زياتي کړېده، او زموږ شعر او ادب ئې په ښکلي کړي دی، د دوي زيار هر کله مشکور اونه هېرېدونکی دي.

مګر موږ اوس غواړو چي زموږ شعر دي يوازي په هغو بحورو او اوزانو کښي محدود نه وي، ښايي چي خپل شعر ته د نوي زماني سره سم ارته لمن ورکو، د قدماوو د زيار زړه او خوږه او پخه پنګه خو لرو، نوی ادب هم بويه چي دغه پنګه زياته کي، او په هغه زاړه ګوټ کښي ئې محدوده او محصوره نه پرېږدي ! ځکه چي موږ خپل او مخصوص عروض او اوزان هم لرو، په پښتنو کښي ډيري لنډۍ، سندري، نيمکۍ، ټکۍ، سپرې بدلي، نارې سته، چي هر قسم ئې ځانله ښېل

وزن او عروض او بحور او قوافي لري. دغه شیان ټوله زموږ د نوی ملي شعر اساس کېدلای سي. که ادباء دغه اوزان قید او ضبط کي، البته یو داسي علم العروض چي د خلیل بن احمد تر عروض به ډېر ارت او وسیع وي وموږ، او دا کار خورا سهل هم دي هر پښتون ته د ملي بدلو او ملي ترانو او سندرو اوزان معلوم دي فقط ټولول او تدوین غواړي، که موږ کلو ته ولاړ سو، یا د غرو د خلکو زړه وړونکی ږغونه او ناري واروو داسي ډېر آثار به وموږ.

هو ! زموږ مطلب دا هم نه دی چي خپل پخواني ادبیات اوزاړه آثار به پرېږدو بلکه مقصد دا دی چي د خپل ادب لمن پکښي محدوده نه کړو، هغه زړه مدونه سرمایه خو مو په لاس کښي ده، اوس به د خلکو د بدلو د اوزانو په تدوین او رواج هم بوخت سو، او د ادب لمن به خورا پراخه او ارته کو. دا خبره د کړو وړ ده چي ددې سندرو او بدلو او لنډیو لکه اوزان چي ئې زموږ علم العروض ته خدمت کوي، هغسي هم ددغو ږغونه او اصوات او تغني زموږ د موسیقۍ نمونه کېدای سي. نو که ترتیب اولږ څه پر علمي ډول سم او تدوین او ضبط سي، موږ به د هندي محزن او روح وژونکي موسیقۍ له لاسه خلاص کي، او د خپل ملي روح سره سم به یو ژوندۍ او غورځانده موسیقي وموږ. دا مضمون د نوی ادب پر تشکیلاتو لږ څه اوږد سو، تر اوسه لا هم ځیني د ویلو خبري پاته دي، مګر د نه اوږدېدو په لحاظ دغه مضمون اوس لنډوو، او د بحث حق نوري ځانګي اوخواوي به بیا ورو ورو تربېلو عنوانو لاندي راوړو، اوس خو د دې مبحث پای دغه دی چي د نوی ادیب اوصاف او لوازم هم وښیو چي څوک د یوه ژوندي او مترقي ادب د جوړولو دپاره په پښتو کښي خدمت کولای سی؟ او زموږ د ژبي نوي ادیب څوک دی؟ څه صفتونه به لري؟

## پښتو نوی اديب به څوک وي؟

۱. هغه څوک چي پر لازمو معارفو احتوا او ددنيا په ادبياتو کښي عصري معلومات لري، د پښتو د زاړه مدون او غير مدون ادب سره آشنا وي، او د مشرق ادبي علوم هم لږ څه ورته معلوم وي.

۲. هغه څوک چي د ادب د موضوع عناصر او لوازم لکه دمخه چي مو ذکر کړه ورته ښکاره وي، يعني د خپل ملت په جغرافي طبيعت او اجتماعي او اقتصادي عنصر پوهيږي، او په ادب کښي ئې د مراعات اقتدار هم ولري.

۳. د نوو افکارو د تطبيق او تحليل او تدقيق قوه ولري، چي جديد مطالب د ملت د روح او عنعناتو او اجتماعي عناصرو سره سمولای سي، او ځان نه پکښي بايلي يعني د ادب ترقي او تجديد د ملي روحياتو سره تطبيق کولای سي او د نوي مترقي فکر د راوړلو قوت ولري.

۴. د افادې اواستفادې قوه يعني د قلم زور او ادبي تلقين چي آخذه او دافعه قوه هم ورته ويلای سو. نوی اديب بايد پخپله د ښېګڼو د جلب او پوهني او اخيستلو قوه ولري، چي بيا نو هغه مزايا ملت ته د ادب له خوا تلقين اوتبليغ کی.

۵. د کار ذوق او د پښتو او پښتنوالی سره د زړه او شخصي مينه. مطلب دا دی چي په ادب کښي سوداګري ګڼه نه کړي پخپل ذوق او شوق کار وکړای سی او دغه خدمت يوازي د نوکرۍ په ډول نه وي، بلکي د زړه مينه هم ورسره ولري.

# روحي ادب او معدي ادب

په دې عنوان د مصر يو مشهور اديب په الثقافه کښي يو خورا ژور او محققانه مضمون کښلی ؤ، ځکه چي دلته هم زموږ د موضوع سره نښت لري، نو ئې مطلب لنډ ليکو :

دا پوه اديب ادب پر دوه ډوله ويشي :

**روحي ادب** : چي د ذوق او احساس او انساني ښو جذباتو څخه زيږي او محرک ئې فقط د انسان زړه او دده ښه عواطف وي دکومي شخصي مادي ګټي سره ربط ونه لري.

**معدي ادب** : چي د دنياوي متاع او د پيسو دپاره وي، اومحرک ئې مادي منافع او بد شهوتونه وي، او فقط د ګيډې د خدمت دپاره اديب قلم چلوي او يا مضمون ليکي يعني سوداګري کوي، او پيسې ترينه باسي.

لومړی ادب ژبه ژوندۍ کوي، او د اجتماع د سمون لپاره لو وسيله ده، اما دوهم ادب خورا تور او لغوړن دی، او د ژبي په ژوندون کښي هيڅ فايده نه لري، او نه يو ملت ويښولای سي.

نو نن ورځ هم موږ په پښتو کښي داسي ادباء غواړو، چي د ذوق او پښتني احساس په تحريک د پښتو خدمت وکي، او مادي منافع تر روحي متاع فدا کي او ددغه کاره سره د زړه مينه ولري يعني روحي اديب نه يوازي معدوي اديب. تر دې ځايه مو د پښتو پر نوی ادب او د پښتنو پر ملی ضروریاتو او عناصرو باندي څه خبرنه وکړه که څه هم موضوع هري خواته څانګي لري مګر چي اوږده نه سي دلته ئې ختم

کوو. په پای کښي دوني بيا وايو : چي نوی ادب بايد فقط په ژوندانه پوري اړه ولري او د خلکو د ژوندانه خدمتګار وي (٥) :

***اې نوې اديبه !***

**رېغ کړه ملته چي ژوندون مي په نصيب سي**

**راته مه وايه د مرګ زړې سنـــــــــــدرې**

## لمن لیکونه

۱. فولکور په انګلیسي Foklore که څه هم لام لري مګر په اصلي ژبه کښي دغه لام نه ویل کیږي. یعني فولکلور نه، بلکي فوکلور وایي په انګلیسي کښي Folk بې لامه Foke ویل کیږي او دغه کلمه ټوله د خلکو پېژندو او مردم شناسۍ او عنعنو او خرافاتو په معنی راځي.
۲. د اروپا د ملتو روحیات د مرحوم هاشم شایق ترجمه ص ۳۵.
۳. وګورئ ! د امام ابي منصور الثعالبی متوفی (۴۳۰ هـ) د فقه اللغه کتاب ص ۴۵۳.
۴. د ابو بشر عمرو الحارثی سیبویه متوفی ۱۸۰ ه اثر " الکتاب" ج ۲۴۲.
۵. عرفان مجله، ۱۳۵۰ کال، ۶ مه ګڼه، ۶۴ _ ۸۱ مخونه.